# بې وخته سيلاب



ليکوال: داکټر معمار حشمت الله اتمر
پيخليک: تله / کال ۱۴۰۶لېږدی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لیکي پوهه:**

**سرلیک:** بې وخته سیلاب

**لیکوال:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**اېډېټور:**

**د پخښتی ډیزان:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**خپرندوی:**

**چاپشمېر:** ۳۰

**چاپ نېټه:** میاشت - تله / کال ۱۴۰۶

**واتس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸

**برېښنالیک:**

atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د کټې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړليک

**سرليک** **چوپړی**

**پښتنی................................................................ ۱**
**بسم الله الرحمن الرحيم ...................................................... ۲**
**ليکي پوهه:.............................................................. ۳**
**لړليک ................................................................ ٤**
**تراڼ (پيل، شروع، بريد)...................................................... ٥**
**د يادښتونو له پاره:........................................................ ۷**
**کيسه، داستان يا ناول: ...................................................... ۸**
**د چاپ شويو کتابونو لېست.................................................. ٤۹**
**د کار لاندې کتابونو لېست ................................................ ٥٤**
**د امکان او وخت په صورت کې............................................... ٥٥**
**د پښتنی ځتې ........................................................... ٥٦**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سیلاب

.......................

## تراڼ (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إِجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِه .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیدایښت یوه حتمي لامل دی. عظمت، د ټولې نړۍ موجودیت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسیدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**
دا ځل مې و غوښتل یوه بل حقیقي داستان (کیسه، ناول)، ولیکم کوم چې په بغلان ولایت کې کیسه یې تېره شوې ده، غواړم د خپلو کتابونو مینه والو او لوستونکو سره یې ګډ (شریکه) کړم.

زما د کتابونو مینه وال یوازې معماران او انجینران نه دي، نه باید اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم چې د هرې ځانګې مینه وال په کې دېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړي چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال دېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سيلاب
......................

**پاکه ربه!**
زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وينو او نه يې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دين له سپيڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**يادونه:**

- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هيله کيږي چې، خپلې غوښتنې او وړانديزونه د دې کتاب د بيا کتنې له پاره، زما سره ګډ (شريکه) کړئ.
- انځورونه د ګوګل سايټ نه د داستان(ناول) مطابق اخيستل شوي دي.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

په در نښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د یادښتونو له پاره:**

۱- ..........................................................................

۲- ..........................................................................

۳- ..........................................................................

۴- ..........................................................................

۵- ..........................................................................

۶- ..........................................................................

۷- ..........................................................................

۸- ..........................................................................

۹- ..........................................................................

۱۰- ........................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سیلاب

......................

**کیسه، داستان یا ناول:**

د پسرلی ښکلې ورځې په چټکی سره تېرې شوې.

اوړي موسوم ورسېد.

اوا(هوا) توده شوه.

ګرمي به ورځ تر بلې ډېرېده.

ورځې اوږدېدې.

لمر وختي راخوت او وړانګې به يې پر ټوله ځمکه خپرېدې.

اوا به ورو، ورو تودېده بیا لس، دولس او دوې بجو کې لوړوالي ته رسېده.

تا به ویل چې، لمر کوز شوی دی.

لمر ته، ګذاره (طاقت) نه کېده.

ټولو به کوښښ کوه تر څو ځانونه سیوري ته ورسوي.

څاروي او مرغانو به هم کوښښ کوه ځانونه تر سیوري لاندې خوندي کړي.

کروندګر(بزګران) به سهار لمانځه نه وروسته کروندو ته، تلل او پر کار به يې پیل کوه، بیا به يې تر ۹ بجو الته کار کوه، وروسته به بېرته خپلو کورونو ته، تلل.

پر هغو به خولې بهېدې او په سرونو به يې څادرونو اچولي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سیلاب
......................

چابک، چابک به په لارې تلل.

په کورونو کې به تر څپرو لاندې کښېناستل.

یخې اوبه او ګرم چایونه به یې څښل.

چا چې برېښنا درلوده، پکې به یې چالانول او تر پکوو لاندې به یې خپلې دمې نیوې.

اوا(هوا) نوره هم تودېده (ګرمېده).

خلکو به د اوړي ورځې شمېرې.

څو ورځې تېرې شوې.

په آسمان کې لړې ورېځې پیدا شوې.

دا ورېځې سپینې وې.



(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سیلاب

......................

کله به څرګنده او کله به ورکې شوې.

څو ورځې نورې هم تېرې شوې.

اوا(هوا) نوره هم ګرمه (توده) شوه.

په ځینو سیمو او ولایتونو کې بیا خړې ورېځې څرګندې شوې.

ورېځې لږې وې.

خو!

هرې خوا به ګرځېدې.

کله به ډېر او کله به لږېدې.



(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سیلاب

......................

په ځينو ولايتونو کې به ورځ تر بلې ګرځېدې.

اوا(هوا) نوره هم تودېده.

د خلکو حوصېله به لږېده.

ټول د باران په تمه وو.

هرچا به دعاوې کوې چې، باران وشي.

هيچا به د خير کلمه ورسره نه يادوه.

څو ورځې نورې هم تېرې شوې.

اوا(هوا) ډېره شوه.

تورې وريځې مخ په زياتېدو شوې.



(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سيلاب

......................

په ځينو ولايتونو کې بارانونه پيل شوو.

ځينو کي به د شپې او ځينو نورو کې په د ورځې هم ورېدل.

پر اوا يې هېڅ اغېزه(تاثير) و نه کړه.

ټول ورته خوشحاله وو.

باران ښه په خوند ورېده.



په ځينو ولايتونو کې سيلابونه (سېلاونه) جاري شوو.

ويالې (بيالې) د اوبو ډکې او پر پښتو وا وښتې.

خړې اوبو(د باران اوبو) ځمکو ته مخه واړوه.

هر څه يې تر اوبو او خټو کړل.

په ځينو ځايونو کې خوړونه جاري شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سیلاب

.....................

وچ خوړونه هم د اوبو ډک شوو.

کورونه یې ترې لاندې کړل.

ځینو ولایتونو کې د شپې سېلابونه جاري شوو.

خلک یې خواږه خوب ته پرې نه ښودل.

د کلا ګانو دېوالونه یې ړنګ او اوبه انګړو ته د ننه شوو.

کوټې یې و نړوې.

څاروي، انسانان یې تر کوټو لاندې کړل.

د وتو او تېښتې لار نه وه.

هرې خوا خړې اوبه تاوې وې.



(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سیلاب

......................

سیندونه ، ویالې او پټي یوه شان ښکارېدل.

موټر هم په اوبو کې بند(ګیر) پاتې وو.



ځیني خلکو بیا له ډاره، خپلو بامو ته ختل.

هغوی په دې سوچ وو چې الته به خوندي وې.

هغوی د ځانه سره پیسې او ګاڼې هم خپړولې وې.

ودانې د ختو وې.

بیخونه یې اوبو پاسته کړي وو.

ډېری یې ونړېدي.

خلک اوبو ته وغورځېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سيلاب

.....................



ځينې نور يې خوندي(بچ) شوو.

هغوی الته په بامونو بند(ايسار) پاتې وو.

د کوزېدو لارې نه وې.

هرې خوا په لوېشتو اوبه او ختې وې.

اوبه په کوټو کې هم تاوېدې.

ډېر شيان يې له ځانه سره، د يوې سيمې نه بلې سيمې ته وېوړل.

ځينې نور هم د ختو لاندې شوو.

په سل هاوو څاروي، ځناور، چرګان، چرګې يې ترې لاندې کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سیلاب

......................




یواځې بتې (بتکې) به لامبو وهې.

د هغوی له پاره اوبه تر ژنگنو وې.

خو!

هغوی یې هم د یوې سیمې نه بلې ته له ځانه سره بوتلې.

لاره ورکه وه.

هر چا به د خپل سر غمه خوړه.

څوک د خوراک او څښاک په غم کې نه وو.

ټولو د تېښتې لارې لټوې.

مړي خورا ډېر وو.

د رنځورانو او ماشومانه ژغورنه هم آسانه کار نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سیلاب

......................

ډېرى ماشومان تر نن ورځې ورک دي.

په ځینو سیمو کې کوشنیان وژغورل شوو.

ځینو نورو سیمو کې تر خړو اوبو لاندې شوو.

ترټولو خونړي سېلابونه د شپې له خوا وو.

کوم چې کورونه یې ونړول او خلک یې بیده تر کورونو لاندې کړل.

مرستې او مرستندویې موسسې هم نه وې.

نه امبولانس وو نه هم چورلکې.



شپه تېره او ورځ رڼا شوه.

ډېرى خلک له ورایه نږدې غونډیو ته ختلي وو.

بیا باران ودرېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سیلاب
.....................

سیلابونه هم ورو، بیا پای ته ورسېدل.

ژوندي پاتې شوي خلک د دوستانو په لټون کې شوو.

هرې خوا جنازې وې.

ډېری په کې ماشومان وو.

هغوی تر کوټو لاندې شوي وو.

ځینې نور په کې ټوله کورنۍ وې.

خلک شاوخوا ګرځېدل.

مړي یې موندل، د کور او کلي خلکو په مرستې یې خاورو ته سپارل.

محمد حسن چې د بغلان ولایت بورکې ولسوالۍ اوسېدونکی وو، په کورکې به یې ویل:

سږ کال ډېره ګرمې ده.

خدای وکړي چې باران و ورېږي.

اوا سړه کې.

ورېځې الته هم تاوې را تاوېدې.

خو د وربښت پته نه لګېده.

د هغه زړه ډېر په تنګ و.

کله به بازار ته، ته او د خپلو ملګرو سره یې کتل.

کور ورته ځای نه ورکاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سیلاب

......................

هغه معلول هم و.

په ډېرو ستونزو به له کوره و وت او د نورو معلو لینو سره به یې لیده کاته کول.

ټولو به د معلولینو په حقوقو غږېدل.

یوه به د بل نه حقوقو ورکړې په هکله پوښتنې کوې.

هر یوه به ویل:

خیر او خیریت دی.

کارنو سره روان دې.

اسناد د مالې په وزارت کې دي.

کېدای شي په دې اونۍ (هفتې) کې امضا او بیا بانک ته ولېږل شي.

څو ورځې تېرې شوې.

هغه د کوره و وت.

خپل ملګري کورته روان شو.

نیمه ګړۍ تېره شوه.

خپل ملګري کور ته ورسېد.

دروازه یې وټکوه.

د ملګري زوې یې، دروازې ته راغی.

دروازه یې خلاصه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد حسن ته يې سلام ورکړ.

محمد حسن هم د هغه سلام ته، وعليکم و ويل:

بيا يې و پوښتل:

پلار دې په کور کې دی؟

هغه و ويل:

هو!

هغه ته و وايه چې محمد حسن راغلی دی.

هغه و ويل:

سمه ده!

هغه دروازه پورې کړه او بېرته انګړ ته د ننه شو.

کوټې ته لاړ چېرې يې چې پلار و.

کوټې ته ننوت.

پلار يې پر توشکې ناست و.

پلار ته يې سلام واچوه.

هغه هم د خپل زوی سلام ته وعليکم و ويل.

بيا پلار يې و پوښتل:

خيريت خو به وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دروازې کې څوک وه؟

هغه و ویل:

دروازې کې ستا ملګری محمد حسن و.

بیا هغه و پوښتل:

هغه څه شو؟

زوي يې و ویل:

هغه د دروازې تر شا ولاړ دی.

بیا پلار يې و ویل:

لاړ شه!

هغه راوله!

زوی يې و ویل:

سمه ده!

بیا زوی يې دروازې ته لاړ او محمد حسن يې کور ته، وباله.

زوی يې مخکې او محمد حسن ورپسې و.

دواړه د مېلمه کوټې ته ننوتل.

د ملګري زوې يې و و یل:

ته دلته پر توشکې کښېنه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سيلاب

......................

هغه پر توشکې کښېناست او د ملګري زوی بالښت د هغه تر شا(څټ) کېښود.

داده!

زه دستي خپل پلار ته غږ کړم.

الک د کوټې د باندې شو او خپل پلار ته يې غږ کړ.

پلار يې سالون ته د ننه شو.

محمد حسن له ځايه پاڅېد او د خپل ملګري سره يې روغبړ وکړ.

ملګري يې  محمد حسن ته و ويل:

مهرباني!

پر توشکې کښېنه.

محمد حسن پر توشکې کښېناست.

بيا يې زوی ته و ويل:

ورشه!

اکا (کاکا) ته دې شين چای راوړه.

الک د مېلمه کوټې نه و وت او چای پسې لاړ.

بيا د دواړو غورې پيل شوې.

محمد حسن خپل ملګري ته و ويل:

دلته اوا(هوا) ډېره ګرمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سیلاب
......................

راځه چې کابل ته لاړ شوو.

التـه اوا سړه ده.

هم به تفريح وکړو او هم به د خپلو حقوقو په هکله پوښتنې وکړو.

کېدای شي پيسې، بانک ته راغلي وي.

ملګرې يې و ويل:

ښه خبره ده.

زما هم زړه وه چې ستا کور ته راشم او د تګ پلان ونيسوو.

ښه شو چې ته، په خپله راغلې.

که نه زه ستا کور ته درتلم.

زما پښه ډېره درد کوي.

په لاره سم نه شم تلای.

اوس په لکړه ګرځم.

ښه شو چې ته راغلې.

زما له پاره، تاسو کورته تګ ستونزمن و.

بيا کيسي، کيسې.

چای ورسېد.

د چای سره د خنجانو برګ وچ توت هم وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځه ناځه چارماغ (چهار مغز) هم په کې ښکارېدل.

خورا خوندور او هېل لرونکی (هېلداره) چای و.

چای په مزه، مزه وڅښل شو.

بیا دواړو سره فیصله وکړه چې سهار وختې د موټرو هډې کې یوه د بل سره ویني او یوه ځای به کابل ته لاړ شي.

ځه وخت تېر شو.

غرمه نږدې شوه.

محمد حسن خپل ملګري ته و ویل:

ستا په اجازه، زه به لاړ شم.

ملګري یې و ویل:

ځه کار لرې.

پاتې شه د غرمې ډوډۍ وخوره، بیا به لاړ شې.

محمد حسن و ویل:

لاره ډېره ده.

ایله، ایله لاړ شم.

هسې ماو تا معیوبین یوو.

د نورو په شان ژر، ژر تللی نه شوو.

که کومه تیره کې مو پښه ونښلي بیا به معیوبت مو دوې چنده شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګري يې و خندل او ويې ويل:

ته هم ريښتيا وايې.

ګښېنه بابا!

تر څو ډوډۍ تيارېږي، غورې به وکړو.

بيا محمد حسن و ويل:

زوروور سړی يې!

ستا زور څوک لري؟

ملګري يې و ويل:

ما او تا خو د کوشنيوالي خوارږه ملګرې يوو.

بيا غورې پيل شوې.

غرمه شوه.

کوزه او چلمچي ورسېدل.

د مګري زوی يې، پر لاس مينځلو پيل کړ.

بيا لاس پاک يې ورته ورکړ تر څو خپل لاسونه وچ کړي.

هغوی لاسونه وچ او دستر خوان اوار شو.

وچه ډودۍ و وېشل شوه.

بيا د شوروا کاسې هم ورسېدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی په کاسو کې ډوډۍ ماته (ميده) کړه او پر خوړولو يې پيل کړ.

ډوډۍ و خوړل شوه.

بيا چای هم ورسېد.

چای وروسته محمد حسن وويل:

اوس د لمانځه وخت ده.

ځه چې، جومات ته لاړ شوو.

ملګري يې و منه او دواړه پاځېدل.

د ملګري زوی يې د هغوی بوټان سم کړل.

هغوی د کوټې نه و وتل.

محمد حسن و ويل:

ښومره ګرمي ده.

په کوټې کې پکی چالانه وه.

په کيسو، کيسو کې ورځ تېره شوه.

په ګرمۍ پوې نه شوو.

ملګري يې و ويل:

همداسې ده.

کله، کله راځه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سيلاب

.....................

غورې به وکړو.

هسې مونږ کوم رسمي کاروبار نه لرو.

محمد حسن و ويل:

سمه ده!

بيا يې زياته کړه.

په پښتو کې يوه متل دی چې وايي:

مينه په تلو راتلو ډېرېږي                کله راځه او کله به زه درځم مينه

بيا دواړو وخندل او د انګړ نه د باندې شوو.

لږ ځنډ وروسته جومات ته ورسېدل.

لمړی اودس خونې ته لاړل.

اوداسه نه وروسته، بيا جومات ته ننوتل او لمونځ يې په جمع ادا کړ.

بيا د جومات نه و وتل او محمد حسن د هغه نه خدای پاماني واخيسته او خپل کور خوا ته روان شو.

مازيګر ناوخته خپل کور ته ورسېد.

هغه خوشحاله ښکارېده.

د کورنۍ غړو يې وپوښتل:

څنګه خوشحاله معلومېږې؟

ته خو غرمه هم را نه غلې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډوډۍ دې خوړلې او که نه؟

هغه و ویل:

نن خپل ملګري کورته، تللی وم.

ډوډۍ مې هم الته وخوړه.

ډېر ځنډ ورووسته مې هغه ولید.

غورې مو سره وکړې او وخت مو ښه تېر شوو، هېڅ به ګرمۍ پوی نه شوو.

د کورنۍ غړو یې و ویل:

دلته بریښنا نه وه.

د ګرمۍ نه مړه شوو.

ښه شوه چې د ستا ورځ ښه تېره شوه.

بیا محمد حسن زیاته کړه.

ما او ملګري مو هوډ کړی چې سبا له خیره سره که د خدای رضا وه ، کابل ته ځو، الته به څو ورځې په یخنۍ کې تېرې کړو هم به د معلولیت حقوق تر لاسه کړو.

کورنۍ یې و ویل:

دا به ښه کار وشي.

هسې خوراکي توکي په کور کې پای ته رسېدلي (خلاص شوي)، چای او بوره هم لږه پاتې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سیلاب

......................

غوړي خو د پخوا هم نه خلاص شوي وو.

متقاعد ډګروال دې خیر یوسې، د هغه له کوره مو پور (قرض) کړل.

په خبرو، خبرو کې ماښام شو.

بیا کورنۍ یې هغه ته د سودا لیست جوړ او ورکړ، تر څو یې د کابل نه واخلی او راوړي.

شپه تېره او سهار شو.

محمد حسن لمانځه ته پاڅېد.

اودس او لمونځ یې په کور کې وکړ.

بیا د کورنۍ غړو سره یې خدا پاماني وکړه او د کوره و وت.

موټرو اډې (هډې) ته روان شو.

البته ملګر یې د هغه په انتظار و.

محمد حسن اډې ته ورسېد.

ملګري یې هغه، د لرې ولید.

محمد حسن هم هغه ولید او خوا ته یې لاړ.

بیا دواړو سره روغبړ وکړ.

سیوري خوا لاړل.

بیا موټر ته وختل، تر څو د کابل اډې (هډې) ته لاړ شي.

په موټر کې سره خوا په خوا کښېناستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې په غورو پیل کړ.

کیسې، کیسې.

په کیسو، کیسو کې کابل اډې (هډي) ته ورسېدل.

البته د موټر څخه ښکته (کوز) بیا د کابل ولایت موټرو خوا، لاړل.

د کابل موټر تش و.

چندان سواري نه وه.

هغوی په یوه غټ موټر کې کښېناستل.

پوره یوه ګړۍ په موټر کې وو.

موټر لږ، لږ ډک شو.

ګړۍ وروسته بیا ټولې څوکۍ (سیټونه) ډک شوو.

چلونکي موټر چالان او ورو، ورو له اډې، و وت.

بیا یې په لوړ آواز غږ کړ:

دعا د خیر!

ټولو د خیر دعا وکړه، بیا ټولو و ویل:

آمین!

موټر تېز او د کابل خوا یې حرکت وکړ.

څو ساعته یې مزل وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سالنګ ته ورسېدل.

التـه ښکلې او سړه اوا (هوا) وه.

ټولو د موټر شيشې خلاصې کړې وې.

ښکلې او پاکه هوا به د هغوی سږي (هوايي کڅوړې) ته تله.

خلکو به خوشحالی کوې.

د شمالی سالنګ نه و وتل.

بيا سويلي سالنګ ته ورسېدل.

التـه اوا لږ توده وه.

په تلو، تلو اوا (هوا) مخ په تودېدو شوه.

بيا پروان ولايت ته ورسېدل.

التـه هم اوا (هوا) لږ توده وه.

خو!

د بغلان په شان نه وه.

بيا ورو، ورو کابل ښار ته ورننږدې شوو.

د کابل اوا (هوا) ښه وه.

التـه هم بارانونـه شوې وو.

د کابل په سيند کې اوبه ډېرې شوې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبه هم خړې وې.

خس او خاشاک په کې روان وو.

داسې معلومېده چې په غرنیو سیمو کې، ښه بارانونه ورېدلي وي.

د کابل ولسوالیو خلکو ته یې هم زیانونه رسولي وو.

هغوې کابل ښار ته د ننه شوو.

ماښام شو.

هر یوه د خپلو دوستانو کورونو ته لاړل.

د لیدو ځای یې سهار وختی ، کابل بانک مرکزی دفتر کوم چې نوي ښار کې شتون لري و.

هغوی خپلو دوستانو کورونو کې شپه و کړه.

بیا سهار د وعدې سره سم، د کابل بانک مخې ته لاړل.

التـه یې سره و لیدل.

بیا د رسمیاتو په شروع کېدو سره، هغوی بانک ته ننوتل او خپل حسابونه یې چک کړل.

د بانک مسول هغوی ته و ویل:

تر اوس دمه پیسې تاسو حسابونو کې، ناستې نه دي.

له کومه ځایه چې زه معلومات لرم کېدای شي سبا ستاسو په حسابونو کې پیسې کښېني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سيلاب

.......................

هغوی خوشحاله شوو او د بانک څخه و وتل.

بله شپه يې هم د دوستانو سره وکړه.

پر سبايې بيا د بانک مخې سره د هغوی ليده کاته وو.

سهار وختي لکه بلې ورځې پاڅېدل او بانک خوا ته لاړل.

الته محمد حسن، لږ ځنډ وکړ.

ملګري يې غوږکی (موبايل) اوچت او محمد حسن ته يې زنګ و واه.

محمد حسن خپل غوږکی راپور کړ.

هغه پوی شو چې ملګری يې وختي رسېدلی دی.

بيا يې هغه ته به غوږکي کې، سلام واچوه.

ملګر يې د هغه سلام ته وعليکم و ويل.

بيا يې محمد حسن ته و ويل:

چېرې ورک يې؟

هغه و ويل:

بس!

لږ ناوخته شوه.

په لاره کې يم.

ته د کومې ودانی تر سيورې لاندې کښېنه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه در رسېږم، بیا به یوه ځای د ننه لاړ شوو.

د محمد حسن ملګري و ویل:

سمه ده!

ژر راشه!

اوا (هوا) ګرمه ده.

محمد حسن و ویل:

سمه ده!

څو دکیکې وروسته محمد حسن هم د بانک لوې دروازې ته ورسېد.

ملګری یې، د ودانۍ تر سیوري لاندې ناست او د محمد حسن پر انتظارو.

محمدحسن ورسېد.

هغه د خپل ځای نه اوچت شو.

بیا یې سره روغبړ وکړ.

د څو دکیکو خبرو نه وروسته، دواړه بانک ته ننوتل.

خپل کارتونه یې په نوبت کې کېښودل.

خپله د غرفو ته مخامخ پر څوکیو کښېناستل.

دوې ګړۍ وروسته د هغوی نوبت ورسېد.

پیسې یې تر لاسه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا پر څوکیو کښیناستل چې پیسې و شماري.

په دې وخت کې یې یوه کلیوال راغی او د هغوی سره یې روغبړ وکړ.

هغه هم د هغوی تر خوا کښېناست.

هغوی پیسې وشمیرې.

پیسې پوره خو ډېرې زړې وې.

بیا ملګري یې و ویل:

پیسې خو ډېرې زړې دي.

خدای وکړي چې وچلېږي.

ملګري یې و ویل:

چې شمېره یې سمه وي، کومه ستونزه نه لري.

په دې وخت کې محمد حسن خپل کلیوال ته و ویل:

ته څه وخت راغلی یې؟

هغه و ویل:

زه پرون راغلم.

بیا محمد حسن وویل:

کوراو کلي کې خیریتي وه؟

هغه و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سيلاب

......................

زما تر راتګ پورې خير او خيريتي وه.

خو!

نن سهار خبر شوم چې پرون شپه په سيمې کې سېلاب راغلی دی.

کورونه يې ويجاړ کړي او څه کسان يې له ځانه سره وړي دي.

څاروي، چرګان او چرګې هم مړې شوي دي.

زه ډېر په سوچ او تشويش کې يم.

زمونږ او تاسو کورونه هم ټول خامه وو.

په دې وخت کې محمد حسن ډير خپه او کورنۍ يې ور په ياد شوه.

په سترګو کې يې اوښکې وڅرخېدې.

بيا يې خپل ملګري ته و ويل:

د سودا اخيستو نه به، تېر شوو.

د ولسوالۍ بازار نرخونه هسې لږ توپير لري.

ښه به داوي چې بېرته خپلو کورو ته لاړ شو.

ملګرې يې و يل:

سمه ده!

زه هم په تشويش کې شوم.

بيا محمد حسن غوږکې (تېلفون) له جبه و ويست او خپلې کورنۍ ته يې زنګ و واهه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه د کورنۍ غړو،غوږکې (تېلفون) بند و.

بیا یې بل ته زنګ و واهه.

د هغه غوږکې (تېلفون) هم بند و.

محمد حسن وارخطا شو او له ځانه سره یې و ویل:

خدایه خیر کړې!

په دې وخت کې ملګرې یې و ویل:

سوچ مه کوه!

ما هم زنګ و واهه.

څوک ځواب نه ورکوي.

کېدای شي د شبکې پایه چپه شوې وي.

نو ځکه غوږکې، کار نه کوي.

په دې وخت کې محمد حسن و ویل:

ځه چې اډې (هډې) ته ځان ورسوو.

ملګري یې و ویل:

سمه ده!

هغوی تیکسي موټر ونیوه او راسآ اډې ته لاړل.

التـه په موټر کې کښېناستل او پر بغلان یې حرکت و کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سیلاب

.......................

د شپې ناوخته بغلان ولایت، پلخمري ښار ته ورسېدل.

د سیمې موټر نه وو.

هغوی مجبوره شوو چې په هوټل کې پاتې او سهار وختې سیمې ته لاړ شي.

په ټلوېزیون او راډیو ګانو کې به راز، راز خبرونه خپرېدل او د هغو تشویش به یې نور هم ډېراوه.

هغوی په سوچونو کې ډوب وو.

تر سهاره یې خوب و نه کړ.

بیا سهار لمانځه ته پاڅېدل.

اودس یې وکړ.

بیا یې نږدې جومات کې لمنځونه ادا کړل.

لږ وروسته د سیمې موټرو اډې ته لاړل.

موټر په سختۍ سره ډک او حرکت یې وکړ.

په غوږکې یې خوارۍ، وکړې.

خو!

کومه اړیکه ټینګه نه شوه.

څنډ وروسته الته ورسېدل.

څه کلیوال یې مخې ته راغلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد حسن و پوښتل:

په کلي کې خيريتي ده؟

شبکې ولې کار نه کوي؟

هغه و ويل:

شبکې کار کوي.

محمد حسن و ويل:

خير زما د کورنۍ اړيکه ولې نه ټينګيږي.

هغه و ويل:

نه پوهيږم.

بيا خپل کلي ته نږدې شو.

هر څه په بل مخ اوښتې و.

د هغه د کورنۍ غږ او غووږ نه وه.

د هغه د کورنۍ ټول ۱۲ غړي، تري تم شوې وو.

نه يې مړي څرګنديده (معلوميده) او نه ژوندي.

هغه هک پک پاتې شو.

اوښکې يې په سترګو کې وچې شوې.

هيڅ ورته ژړا نه راتله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سيلاب

......................

بيا هغه د امارت مسولينو نه مرسته و غوښته، هغوی هم و نه توانېدل د محمد حسن سره د مړو په موندلو کې مرسته وکړي.

څو ورځې تېرې شوې.

د هغه د کورنۍ غړي چېرې د ختو لاندې شوي او يا سيند چېرې وړي او تري تم شوي وو.

محمد حسن په روغتونو او کلينيکونو، ګرځېده.

هغه د بل کس سره مخ شو چې هغه د مرکزی بغلان د ولسوالۍ و.

هغه اسدالله نوميده چې د هغه هم د کورنۍ ۶ غړې يې تري تم شوي وو.

هغه هم د خپلو کورنۍ غړو پسې ګرځېد.

بيا محمد حسن ښار مرکزي روغتون ته لاړ.

الته ګل احمد سره آشنا شو.

د هغه هم څو د کورنۍ غړي يې مړه شوې وو.

هغه و ويل:

ما په خپله دلته د ۷۵ کسانو مړي وليدل چې ډېری يې ښځې او ماشومان وو.

هغه زياته کړه:


زمونږ د سيمې کورونه او کوڅې نړېدلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سیلاب

......................

سبا د جمعې پر ورځ به چې د غوایي د میاشتې ۲۱ مه نېټه کېږي، موندل شوي مړي به خاورو ته وسپارو.





(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سیلاب

......................





(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سیلاب

......................





(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سیلاب

.......................





(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سیلاب

......................





(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سيلاب

......................





(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سیلاب

......................





(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد حسن هم د مړو په راوېستنې او خښولو کې مرستې وکړې.

هغه هر څه له لاسه ورکړل.

اوس هغه ته روحي ناروغي هم پيدا شوې ده.

ډېرى وخت هغه په سوچ کې وي.

**پاى**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سیلاب

......................

## د چاپ شویو کتابونو لېست

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلایې
(برای اساتید انستیتوت های تخنیکې و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه / دنیای انجینری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
١٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
١٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
١٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سیلاب

......................

۱۹. منار جام - الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکې - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳۵. مجنون او ګلچېن (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



(جلد اول)
۳۹. برف ها آب میشود
۴۰. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
۴۱. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
۴۲. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
۴۳. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
۴۴. د اسلامي معمارۍ پیل
۴۵. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
۴۶. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
۴۷. د شپېلۍ مینه (مه ینه) په کچه کړۍ کې (پښتو ناول)
۴۸. حشمت خان د کلا معماري
۴۹. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
۵۰. د وچو ېنونه او پارکونو معماري
۵۱. د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)
۵۲. د ژرنده ګرې ماما مینه (پښتو ناول)
۵۳. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
۵۴. شپنه ادې (پښتو ناول)
۵۵. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
۵۶. د مینې تاو (پښتو ناول)
۵۷. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او اینجینیرانو(انجینرانو) له پاره
۵۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
۵۹. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خواږه ملګري (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦٠. د یوې میاشتې **ناوې** (پښتو ناول)
٦١. دخاخکو هار (د یوه سړی لنډې کیسې)
٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانی)
٦٣. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٦٦. ډارونکی سیلاب ( پښتو ناول)
٦٧. خواریکښ قاضي (پښتو ناول)
٦٨. د پخوانیو جوماتونو توپیر د نن سره
٦٩. د مور وژونکی (قاتل)، (پښتو ناول)
٧٠. د مور مېړه (پښتو ناول)
٧١. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد چهارم)
٧٢. لېونی ملا (پښتو ناول)
٧٣. ځوان شهید (پښتو ناول)
٧٤. توده برستن (پښتو ناول)
٧٥. نورک اکا (پښتو ناول)
٧٦. غریبک (پښتو ناول)
٧٧. د ژوند خوږې او ترخې (پښتو ناول)
٧٨. الماء [دیارلس کلنه فلسطینۍ انجلۍ تر نړېدلې ودانۍ (پښتو ناول)]
٧٩. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد پنجم)
٨٠. ادبي لښتې / چوب ادبی
٨١. د ښاروالۍ کاریګر (پښتو ناول)
٨٢. د خاورو لاندې ښار (د عینک مسو کان ته ښېرمه)
٨٣. شهری زیر خاک (نزدیک معدن مس عینک)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وخته سيلاب

......................

٨٤. ساختمان های کانتینری
٨٥. کانتینري ودانۍ
٨٦. Architecture of Buddist temple in Kabul city
٨٧. ښکلې هوسۍ (پښتو کیسه)
٨٨. خړه بیزو(پښتو کیسه)
٨٩. سور تنور(پښتو ناول)
٩٠. سپین کارغه (پښتو داستان)
٩١. لېونی لېوه (پښتو داستان)
٩٢. بندي مرغه (پښتو داستان)
٩٣. بې وخته سيلاب (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کار لاندې کتابونو لېست**

١. هنر خطاطی و میناتوری در مراد خانی
٢. هنر کلالی در مرادخانی
٣. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امکان او وخت په صورت کې

١. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
٢. تاریخ معماری افغانستان
٣. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
٧. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# A timeless flood

Written by: Architect PHD Hashmatullah Atmar

Date: October - November /2027

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**